# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**19عقرب_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**کندوز کې زرګونو تنو ته د نغدي مرستې د وېش لړۍ پیل شوه ---------------------------------------------------1**

**۱۰ خانواده در ولایت سرپل مساعدت شد----------------------------------------------------------------------1**

**بادغیس کې زر کورنۍ له نغدي مرستې برخمنې شوې ------------------------------------------------------------2**

**لندن د نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې په موخه د بالکان له درېو هېوادونو سره تړونونه لاسلیک کوي --------------2**

**یونان: رودس ټاپو ته څېرمه څلور کډوال ډوب شوي -----------------------------------------------------------4**

**نجات ۱۸۵ مهاجر از آب های مدیترانه---------------------------------------------------------------------6**

**"با قاچاقچیان انسان و امدادگران بشردوستانه نباید همسان برخورد شود" -----------------------------------------7**

**تاکنون ۷۵۰۰ خروج داوطلبانه از طریق برنامه مشترک حکومت فدرال و ایالات آلمان انجام شده است --------------9**

# متن کامل اخبار

## کندوز کې زرګونو تنو ته د نغدي مرستې د وېش لړۍ پیل شوه

د وزارت ویب سایت




**په کندز ولایت کې د لړم پر شپاړسمه د ۶ زره ۹۳۲ بې ځایه شویو او راستنو شویو لپاره د نغدي مرستې د وېش لړۍ پیل شوه. دا نغدي مرسته به دوی ته د بانک د تحویلي او لګښتونو لپاره د حقوقي هویت اسنادو (برېښنایي تذکرې) ترلاسه کولو لپاره ورکړل شي او هر یو ته به د افغان ښځو لپاره د ښځو موسسه په دوو ورځو کې یو زره او ۲۰۰ افغانۍ ورکړي.**

## ۱۰ خانواده در ولایت سرپل مساعدت شد

ویب سایت وزارت



**برای ۱۰ خانواده در ولایت سرپل، کمک نقدی بتاریخ ۱۶ عقرب توزیع گردید.**

**خانواده های متذکره شامل برگشت کننده گان اجباری از کشور های همسایه بودند که از جانب امور مهاجرین آن ولایت قبلاً شناسایی که پس از آن مبلغ ۲ هزار افغانی برای هر عضو خانواده از جانب امارت اسلامی با نظارت کمیته ولایتی و آمریت مهاجرین برای شان توزیع شد.**

## بادغیس کې زر کورنۍ له نغدي مرستې برخمنې شوې

د وزارت ویب سایت

**په بادغیس ولایت کې د لږم له پنځمې څخه د لږم تر شپاړسمې زرو کورنیو ته نغدي مرسته وېشل شوې ده.**
**په دغو کورنیو کې هغه بې ځایه شوې، راستانه شوې او اړمنې کورنۍ شاملې وې، چې مخکې د دغه ولایت د مهاجرینو ادارې له خوا د قادس، غورماچ، بالامرغاب، ژوند، ابکمري، مقر، دره بوم ولسوالیو او د بادغیس په مرکز کې پېژندل شوې وې.**
**د دې مرستې لومړۍ برخه د ٤ زره ۳۰۰ افغانیو په ارزښت د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ ادارې له لوري ووېشل شوه.**
**د یادونې وړ ده، چې په راتلونکي کې به پر دغو کورنیو د دې مرستې دوه نورې برخې هم ووېشل شي.**

## لندن د نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې په موخه د بالکان له درېو هېوادونو سره تړونونه لاسلیک کوي

مهاجرنیوز



د برېتانيا حکومت د چهارشنبې په ورځ اعلان وکړ په پام کې لري چې له صربستان، شمالي مقدونيې او کوسوو سره د قاچاقي شبکو د له منځه وړلو په موخه د همکارۍ تړونونه لاسليک کړي. د برېتانوي چارواکو په وينا، تېر کال نږدې ۱۰۰ زره کډوال د لوېديځ بالکان له لارې اروپا ته اوښتي دي.

د برېتانيا حکومت د چهارشنبې په ورځ اعلان وکړ چې غواړي د قاچاقي ډلو د له منځه وړلو او د نامنظمې کډوالۍ د مخنيوي لپاره له صربستان، شمالي مقدونيې او کوسوو سره د همکارۍ تړونونه لاسليک کړي.

د برېتانيا د لومړي وزير دفتر د يوې اعلاميې په خپرولو سره وويل چې د دغو تړونونو موخه د استخباراتي معلوماتو شريکول او د قاچاقي ډلو نيول دي.

د چارواکو په وينا، په ۲۰۲۳ کې نږدې ۱۰۰ زرو کډوالو د لويديځ بالکان پر لار ځانونه اروپايي هېوادونو ته رسولي دي .

په اعلاميه کې راغلي دي: «زموږ په لويه وچه کې يوه جرمي امپراتوري فعاليت کوي چې د وحشتناکو انساني قربانيو اصلي عامل بلل کېږي او ملي امنيت ته مو زيان رسوي.» د اعلاميې له مخې، که څه هم برېتانيا د کډوالۍ اړوندو جرايمو سره مبارزه کې «مرکزي رول» لري، خو نه شي کولی چې «په يوازې سر دغه کار ترسره کړي«.

برېتانيا په ۲۰۲۲ کې له البانيا سره هم د همکارۍ تړون لاسليک کړی و. هغه وخت د برېتانيا پخواني لومړي وزير ريشي سونک د نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې په موخه ګڼ تدابير اعلان کړي وو. د برېتانيا د کورنيو چارو وزارت په يوه اعلاميه کې راغلي وو چې ياد تړون کې د تېرانا هوايي ډګر ته د برېتانيا د پولې ساتو ځواکونو استول، په ټولو سرحدي پوستو کې د کنټرول ترسره کول، برېتانيا کې د بې اسناده البانويانو شديد کنټرول او د دواړو هېوادونو ترمنځ د لوړپوړو افسرانو تبادله کول درج شوي دي .

همدارنګه د ۲۰۲۳ په جون کې د ریشي سونک حکومت پر ټولنیزو رسنیو د نامنظمې کډوالۍ پر وړاندې کمپاین په لاره اچولی و. هغه مهال په فیسبوک او انستاګرام کې خپرو شویو پوستونو کې بې اسنادو کډوالو ته خبرداری ورکړل شوی و چې برېتانیا ته د غیرقانوني سفر په صورت کې به «د نیول کېدو او اخراج له خطر سره مخامخ کېدلی شي.«

د نړۍ په کچه همکاري

د کارګر ګوند مشر کیېر ستارمر چې د ۲۰۲۴ په جولای میاشت کې واک ته رسېدلی له قاچاق وړونکو سره مبارزه خپل لومړیتوب بولي. نوموړي د خپل ټاکنیز کمپاین پر مهال ویلي وو چې له نامنظمې کډوالۍ او په ځانګړې توګه د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته په کښتیو کې د غیرقانوني سفرونو پر وړاندې اقدامات وکړي او له قاچاق وړونکو سره د مبارزې لپاره له هغو امکاناتو کار واخلي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره ترې کار اخیستل کېږي.

دغه چارواکي د دوشنبې په ورځ ګلاسکو کې د انټرپول په عمومي غونډه کې وویل انګلیس کانال کې د انساني قاچاق له شبکو سره د مبارزې لپاره ۷۵ میلیونه پونډه (شاوخوا ۹۰ میلیونه یورو) اختصاص ورکوي .له دې سره د برېتانیا پر پولو د امنیتي تدابیرو او انګلیس کانال کې له قاچاقي شبکو سره د مبارزې لګښت ۱۵۰ میلیونه یورو ته رسیږي. د برېتانیا حکومت په پام کې لري چې دغه پیسې د نویو تجهیزاتو کارولو او همدارنګه د ۱۰۰ مختصصو څېړونکو ګومارلو کې وکاروي.

کیېر ستارمر د انټرپول غونډې ته دا هم وویل چې غواړي د انساني قاچاقبرانو سره د مبارزې لپاره نړیواله همکاري لا زیاته کړي ځکه انساني قاچاقبران د ترهګرانو په څېر دي او نړیوال امنیت ګواښوي. هغه زیاته کړه: «د امنیت مسله زموږ پر پوله نه ختمیږي او ناقانونه کډوالي له شک او تردید پرته په نړیواله کچه د بې امنۍ یو مهم فکتور دی«.

لندن له اروپايي ټولنې څخه له وتلو وروسته نور یوروډاک او د شېنګن معلوماتي سیستم ته لاسرسی نه لري. یوروډاک هغه سیستم دی چې د پناه غوښتونکو د ګوتو نښې پکې ثبت شوې دي. د شېنګن معلوماتي سیستم بیا د تعقیب لاندې خلکو، لادرکه شویو او یا بې اسنادو کسانو معلومات راټولوي.

د سختو امنیتي تدابیرو سره سره د سمندر له لارې برېتانیا ته د کډوالو سفرونه لا هم ادامه لري. د روان کال له پیل راهیسې ۳۱۶۱۲ کډوال د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته اوښتي دي چې دغه شمېرې د تېر پوره کال په پرتله زیاتوالی ښیي. خو سږ کال انګلیس کانال کې د کډوالو لپاره تر ټولو مرګونی کال هم بلل کیږي: د ۲۰۲۴ له جنورۍ راهیسې لږترلږه ۶۰ کډوالو برېتانیا ته د رسېدو په هیله په دغه سمندر کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

## یونان: رودس ټاپو ته څېرمه څلور کډوال ډوب شوي

مهاجرنیوز



**د یونان ساحلي ځواکونه وایي څلور کډوال د تېرې چهارشنبې په ورځ د رودس ټاپو په اوبو کې ډوب شوي دي. په دغو کډوالو کې یوه مېرمنه هم شامله ده. عیني شاهدانو ویلي چې قاچاقچیانو دې ته اړ کړي چې ځانونه اوبو ته وغورځوي .**

**د یونان ساحلي ځواکونو په یوه خبرپاڼه کې لیکلي دي څلور کدوال چې یوه مېرمن هم پکې ده د تېرې چهارشنبې په ورځ د نومبر په شپږمه رودس ټاپو ته څېرمه په اژه سمندر کې ډوب شوي دي. د کښتۍ پاتي ۲۵ سپرلي په دې بریالي شوي چې ځانونه ساحل ته ورسوي .**

**تر دې مهاله د ډوبې شوې کښتۍ په هکله نور جزیات نه دي څرګند شوي .**

**عیني شاهدانو ویلي انساني قاچاقچیانو دې ته اړ ایستلي چې ځانونه اوبو ته وغورځوي څو په خپله ونه نیول شي .**

**رودس په اژه سمندر کې پروت ټاپو دی چې د مهاجرو د نوم لیکنې او د هرکلي مرکز پکې نشته. په تېرو څو میاشتو کې دغه ټاپو ته د اوښتونکو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی. د رودیاکي ځایي ورځپاڼې د خبر له مخې، یوازې د اکتوبر په وروستۍ اونۍ کې له ۷۰۰ څخه زیات کډوال دغه ټاپو ته اوښتي دي .**

**د یونان د کډوالۍ وزارت د شمېرو له مخې، په ۲۰۲۴ دغه هېواد ته د داخلېدونکو کډوالو شمېر ۲۴ سلنه زیات شوی دی. دغه وزارت زیاته کړې ده چې رودس ټاپو او د اژې سمندر سوېل ختیځې برخې ته هم د اوښتونکو کډوالو په شمېر کې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی .**




د یونان د کډوالو چارو وزیر نیکوس پاناجیوتوپولوس د سه شنبې په ورځ ای آر تي راډیو ټلویزیون سره خبرو کې وویل دمګړۍ د اژې سمندر سوېل ختیځه برخه او رودس ټاپو د کډوالۍ له فشار سره مخ دي. نوموړي زیاته کړه چې د کډوالو دغه څپه منځني ختیځ کې له روانو جګړو سره تړاو نه لري.

بل لور ته بیا د رودس ښاروال الکساندروس کولیادیس له رویاکي سره خبرو کې ویلي دي چې دغه ټاپو «د کډوالۍ له ستونزې» سره نه بلکې د ساحلي څواکونو او پولیسو او هغو دولتي کارکوونکو له کمښت سره مخ دی چې دنده یې د اوښتونکو کډوالو د هویت ثبتول او د یونان نورو سیمو ته د خلکو انتقالول دي .

نږدې ۴۹ زره کډوال یونان ته اوښتي دي

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې په حواله، د روان کال له پیل راهیسې ۴۸۱۵۸ کډوال یونان ته په رسېدو بریالي شوي دي. یادې ادارې ویلي دي چې ۴۲ زره کډوال د اژې سمندر او ۶ نور بیا د ځکمنیو پولو څخه په تېرېدو سره دغه هېواد ته اوښتي دي. په ۲۰۲۳ کې ۴۱۵۶۱ کډوالو ځانونه یونان ته رسولي وو .

په تېرو څو وختونو کې پر دغه سمندري لار د کښتیو د ډوبېدو مرګوني پېښې هم رامنځته شوې دي. د روان کال د اکتوبر په پای کې ساموس ټاپو ته څېرمه دوو کډوالو د کښتۍ ډوبېدو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ .له دې پېښې څو ورځې مخکې د دوو نوښو زیږېدلو ماشومانو په ګډون څلور مهاجر د کوس ټاپو په ساحلي اوبو کې لادرکه شوي وو .

له تېرو څو کلونو راهیسې زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې د اژې سمندر له لارې په کښتیو کې له ترکیې څخه ځانونه یوناني ټاپوګانو ته ورسوي. یو شمېر نور بیا د لیبیا له سواحلو څخه د کرېت ټاپو پر لور حرکت کوي .

## نجات ۱۸۵ مهاجر از آب های مدیترانه

مهاجرنیوز




کشتی "اوشن ویکنگ" در بحیره مدیترانه ۱۸۵پناهجو و مهاجر را نجات داده است. براساس گزارش سازمان امدادی "اس او اس مدیترانه"، چهار کودک و ۲۰ نوجوان نیز در میان نجات‌یافتگان قرار دارند.

طبق گزارش‌ها، این افراد در سه عملیات مختلف در روز چهارشنبه به کشتی منتقل شدند.

ابتدا خدمه کشتی به یک قایق با ۱۴۰ پناهجو در منطقه جستجو و نجات لیبیا کمک کردند. ۴۵ نفر دیگر نیز در جریان روز چهارشنبه در دو عملیات جداگانه در منطقه جستجو و نجات مالتا نجات داده شدند. به این کشتی نجات همچنین بندر جنوا در ایتالیا برای تخلیه مسافران اختصاص داده شده است.

بحیره مدیترانه یکی از خطرناک‌ترین مسیرهای مهاجرت در جهان به شمار می‌آید. طبق گزارش سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، از ابتدای سال جاری بیش از ۱۷۰۰مهاجر در جریان عبور از این مسیر جان خود را از دست داده‌اند یا مفقود شده‌اند.

## "با قاچاقچیان انسان و امدادگران بشردوستانه نباید همسان برخورد شود"

مهاجرنیوز




**در مورد جرم مساعدت به ورود غیرقانونی، محاکم باید افرادی که درگیر فعالیت‌های تجاری قاچاق انسان هستند و کسانی که به دلایل انسانی یا خصوصی کمک می‌کنند را متفاوت بررسی کنند. همانطور که یک کارشناس حقوقی دیوان عالی قضایی اتحادیه اروپا (EuGH)در روز پنج‌شنبه اعلام کرد این خواسته بر اساس اصل تناسب (Verhältnismäßigkeit)مطرح شده است.**

**قضات لوکزامبورگ موظف به رعایت این نظر نیستند، اما در اکثر موارد به توصیه‌های مشاوران حقوقی عمومی پیروی می‌کنند .**

**در این مورد خاص، یک زن از جمهوری دموکراتیک کانگو در افریقای مرکزی که همراه با دختر و یک خواهرزاده خود از طریق میدان هوایی بولونیا وارد ایتالیا شد، تحت بررسی قرار دارد. او برای هر سه نفر مدرک جعلی ارائه داده بود. بعدها او درخواست پناهندگی بین‌المللی داد. این زن ادعا کرد که از طرف شریک زندگی سابقش تهدید به قتل شده و دختران را به دلیل نگرانی از سلامت جسمانی‌شان با خود به همراه آورده است.**

**در محکه جنایی بولونیا، او به جرم مساعدت به ورود غیرقانونی متهم شد. محکمه از دیوان عالی قضایی اتحادیه اروپا (EuGH) خواسته است که آیا مطابق با منشور حقوق بنیادی اتحادیه اروپا، مساعدت به ورود غیرقانونی به دلایل خصوصی و انسانی باید از مجازات معاف باشد یا خیر.**

**مشاور حقوقی عمومی اتحادیه اروپا، ژان ریچار د لا تور، ابتدا تأکید کرد که ورود غیرقانونی به طور کلی خطراتی برای امنیت عمومی و همچنین برای خود پناهجویان به همراه دارد. بنابراین، تعیین جرم به طور عمومی برای این نوع رفتار در قوانین اتحادیه اروپا غیرمعقول نیست. او تأکید کرد که این دستورالعمل اتحادیه اروپا با منشور حقوق بنیادی اتحادیه اروپا سازگار است.**

**با این حال، او اضافه کرد که قانون ملی باید به محاکم این امکان را بدهد که بین انگیزه‌های مختلف در مساعدت به ورود غیرقانونی تمایز قائل شوند. اصل تناسب ایجاب می‌کند که کسانی که «به دلایل انسانی یا اضطراری» عمل می‌کنند، باید متفاوت از قاچاقچیان تجاری با ان ها برخورد شود. با این حال، این انگیزه‌ها ممکن است فقط بهانه‌ای باشند و بنابراین باید این نوع موارد هم تحت بررسی قضائی قرار گیرند. حکم نهایی در تابستان سال آینده صادر خواهد شد .**

قضات لوکزامبورگ موظف به پیروی از توصیه‌های مشاوران حقوقی عمومی نیستند، اما در اکثر موارد از آن ها پیروی می‌کنند.

## تاکنون ۷۵۰۰ خروج داوطلبانه از طریق برنامه مشترک حکومت فدرال و ایالات آلمان انجام شده است

مهاجرنیوز




افرادی که می خواهند داوطلبانه آلمان را ترک کنند و افراد موظف به خروج که به طور داوطلبانه به کشورهای مبداء خود باز می‌گردند، می‌توانند از حمایت‌های مختلفی از سوی مقامات دولتی برخوردار شوند. با این حال، این سیستم همچنین می‌تواند به سوءاستفاده نیز منجر شود.

در ۹ ماه اول سال ۲۰۲۴، ۷ هزار و ۵۰۰ خارجی به طور داوطلبانه از طریق برنامه مشترک حکومت فدرال و ایالات (REAG/GARP)به کشور خود بازگشتند. طبق گزارش اداره فدرال برای مهاجرت و پناهندگان (بامف) به روزنامه آلمانی "ولت" از میان این افراد، ۳ هزار و ۳۲۳ نفر موظف به خروج بودند که حدود نیمی از آن‌ها (۱۶۵۹نفر) بدون اجازه اقامت (دولدونگ) بودند. در سال گذشته، تعداد کل افراد موظف به خروج که از این برنامه استفاده کردند، ۵ هزار و ۷۹۶ نفر بود.

تا کنون در سال ۲۰۲۴، از مجموع ۷ هزار و ۵۰۰ نفر بازگشته، ۳ هزار و ۸۴۶ نفر دارای اجازه اقامت موقت بودند؛ این اجازه به پناهجویان تا اتمام مراحل درخواست پناهندگی داده می‌شود. نزدیک به نیمی از این افرادی که در طول روند پناهندگی خود از این حمایت استفاده کردند، شهروندان ترکیه بودند، به تعداد ۱ هزار و ۸۹۱ نفر.

اگرچه مقامات به طور کلی علاقه زیادی دارند که هرچه بیشتر افراد موظف به خروج یا پناهجویانی که از کشورهای با شانس پذیرش کم، مانند ترکیه، هستند، از برنامه‌های خروج استفاده کنند، اما طبق گزارش روزنامه، به ویژه در مورد شهروندان ترکیه و کشورهای شرق اروپا، شواهدی وجود دارد که نشان می‌دهد این برنامه‌های حمایتی ممکن است به عنوان انگیزه‌ای برای مهاجرت به آلمان عمل کنند.

علاوه بر برنامه(REAG/GARP ) ، چندین برنامه حمایتی ایالتی دیگر نیز وجود دارند که تأثیر چندانی ندارند: تا پایان ماه سپتمبر، تنها ۱ هزار و ۲۸۲ مهاجر از طریق حمایت‌های ایالتی از آلمان خارج شدند و ۱۲۸ نفر دیگر از طریق "مساعدت‌های عمومی دیگر" به کشور خود بازگشتند.

خبرنامه